# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com   www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | ایدیولوژیک مسایل |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعی

۱۵ جنوری ۲۰۱۲

## د
## علی محمد مخلص
## عرفانی فرهنگ
### د محمد هارون خپل شعشعی
### ليکنه او څيړنه
### ۳۳

**۱۰۱- ذِکر او فکر:**

ذکر، په اسلامي تصوف او عرفان کي د الله تعالی يادولو؛ او بې له ده د نور هر څه هېرولو ته وايي . د اسلامي تصوف لــوی او مشهور انګرېز څېړونکي ــ پروفيسر نيــکلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵م ) په خپل مشهور اثر « د اسلام صوفيان » کي د ذکر په اړه داسي ليکي : « لومړی پړاو د ځان هېرول دي؛ او وروستی پړاو يې په عبادت کي د عابد فنأ ده . د معبود په وجود کي داسي ډوبېدل، چي بيرته خپل لومړني حالت ته نسي ور ګرځېدلای . »۱

د « تاريخ پيدايش تصوف و عرفان و سير تحول وتطور آن » مؤلف ــ ښاغلي کريم نيرومند محقق ، فکر له مُقيد او باطل څخه و حق ته دتېرېدو؛ او په مقيد جزء کي د مطلق کُل د ليدلو په مانا راوړئ دئ . د ده په اند، فکر کوونکی ء سالک ګام په ګام داسي ځای ته رسيږي، چي د کايناتو ټوله څيزونه او موجودات، د يوه ذات او يوه وجود د مظاهرو په توګه ګوري ۲.

ذکر او فکر د اسلامي تصوف او عرفان نه بېلېدونکي او خورا ارزښتناکه برخه ده، چي رېښې يې د زياترو عرفاني مسألو په څېر، په قرآني نصوصو، نبوي حديثونو او نورو معتبرو اسلامي سرچينو کي پرتې دي . د مثال په توګه، د قرآن کريم د انفال د سورې د پينځه څلوېښتم آيت ( ۸ : ۴۵ ) په يوه برخه او د جمعې د سورې د لسم آيت ( ۶۲ : ۱۰ ) په يوه برخه کي، د خدای عزوجل د ذکر په باب راغلي دي : « ... واذکروالله کثيرا لعلکم تفلحون » ياني خدای تعالی په ډېربښت سره ياد کړئ، ښايي تاسي وژغورل سئ ! د رعد د سورې په اته ويشتم آيت ( ۱۳: ۲۸ ) کي، د زړه د ډاډ او سُودې په مقصد، د الله سبحانه و تعالی ذکر ته، داسي کنته

سوې ده : « الذین آمنو و تطمئن قلوبهم بذکر الله الا بذکر الله تطمئن القلوب » یاني هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دئ؛ او د الله په ذکر سره یې خپلو زړونو ته ډاډ ورکړئ دئ؛ واورئ، چي د الله په ذکر سره زړونه سُوده او ارام مومي .۳ د حجر د سورې په نم آیت ( ۱۵ : ۹ ) کي، سپیڅلي قرآن ته د الهي ذکر په توګه اشاره سوې ده . په دې مبارک آیت کي، داسي امر سوئ دئ : « انا نحن نزلنا الذکر و انا له لحفظون » یاني په ریشتیا سره موږ ذکر ( قرآن ) نازل کړئ دئ؛ او موږ د هغه ساتونکي یوو . په سپیڅلي قرآن کي، د « یعلمون » ، « یتفکرون » او « یتذکرون » ټکي ټول د لوی ښتن د ابدي او ازلي، ناپایه او بې مثله هستی د ذکر او فکر مسألي ته اشاره کوي . دغه راز، په زیاتو نبوي حدیثونو کي هم، د ذکر او فکر موضوع ته جدی پاملرنه سوې ده . په یوه نبوي حدیث کي راغلي دي : « افضل العباد عندالله من یذکر الله کثیرا » یاني خدای تعالی ته ستاسي تر ګردو ښه بنده هغه څوک دئ، چي د الله تعالی ډېر ذکر کوي .

د سیدالمرسلین ـ حضرت محمد ( ص ) په یوه حدیث کي د هر هغه څه د حرمت په باب لارښوونه سوې ده، چي الهي ذکر او فکر په وړاندي خنډونه او بندیزونه پیدا کړي : « فهکم عن ذکر الله تعالی فهو حرام » یاني هر هغه څه حرام دئ، چي تاسي د خدای تعالی له ذکره وګرزوي .۴

د رسول الله ( ص ) په یوه بل مبارک حدیث کي، د لوی پروردګار د تلپاتي هستی او خپلي نېستی په باب تفکر ته په داسي لوړوالي او درنه سترګه کتل سوي دي : « فکر ساعة خیر من عبادة سبعین سنة » یاني یو ګړی فکر تر اوویا کالو عبادت ښه دئ . دلته د هر چا په ذهن کي دا پوښتنه پیدا کېږي، چي څه ډول فکر تر اوویا کالو عبادت غوره دئ؟ ښایي د هر چا په مغز کي د دې پوښتني د جواب له پاره، څه نا څه ورو ګرزي؛ خو د عارفانو او متصوفینو له نظره، دا فکر د لوی ښتن د لایزاله ذات د بېلابېلو صفتونو؛ او د خپل ځان د نېستی په باب سوچ دئ . په بله ژبه، د نس، شهوت، اولاد، دولت، شهرت، شان ، شوکت، ظاهري تجمل، شیطاني اندېښنو او د نوس د بېلابېلو وسوسو په باب سوچونو، نه یوازي د عبادت مقام نه لري؛ بلکي د زړه او اروا عذاب دئ . عارفان، د حق تعالی د هستی او خپلي نېستی په باب تفکر په داسي ژورتوب سره انځوروي :

« تا روی تو را بدیدم ای شمع طراز!
نه کار کنم نه روزه دارم نه نماز
چون با تو بوم مجاز من جمله نماز
چون بی تو بوم نماز من همه مجاز »۵

عارف، باید تر هغه مهاله د حق تعالی په ذکر بوخت وي، چي د هغه له هستی پرته یې نور هر څه له زړه او اروا ووزي؛ لکه څنګه چي ځینو عارفانو ویلي دي :« و اذکرو ربک اذنسیت » او « اذکر الله بنسیان ماسوا. »

ذکر د شکل له مخي پر دوه ډوله دئ . خفي یا پټ ذکر او جلي یا په لوړ اواز ذکر .

تصوفي او عرفاني مکتبونو، ددغو دوو ډولو د ښه والي په اړه بېلابېلي نظریې وړاندي کړي دي . د مثال په توګه، په چشتییه او قادریه طریقو کي جلي ذکر؛ خو د عرفاني سیر او سلوک په یو شمېر نورو لاروکي، پټ یا خفي ذکر غوره ګڼل سوئ دئ . دېښتنو د صاحب نظر عـــــرفاني او سیـــــــــاسي پېشوا ـ بـــــایزید روښان اورمـــــړ ( ۹۳۱ ـ ۹۸۰هـ ق ) په عرفاني طریقت کي، د قرآن کریم د اعراف د سورت د دوه سوه پینځم آیت ( ۷: ۲۰۵ ) « و اذکر ربک فی نفسک تضرعا و خفیة و دون الجهر من القول بالغدو و الاصال و لا تکن من الغافلین »۶ د لارښوونو له مخي د ذکر دواړي بڼي ( خفي او جلي ) منل سوي دي؛ مګر پټ یا خفي

ذکر  د دي نبوي حديث « خيرالذکر الخفی و خير الرزق ما يکفی »٧ په استناد  تر جلي ذکر افضل  بلل سوئ دئ . ٨  د  ميا روښان په عرفاني سېر او سلوک کي، پټ ذکر په هر مهال او جلي ذکر د سهار پر مهال غوره گڼل سوئ دئ .

د پښتنواندېشمند عرفاني لاربښود، مياروښان، په خپلو عرفاني ډوکتورينو کي د بدن، اندام، ژبي، زړه او سا د ذکر په باب، جلا جلا تعريفونه وړاندي کړي دي . د ده د نظريو له مخي : «  د تن ذکر هغه دئ، چي تن و جارباسي له واړه حرام .  د اندام ذکر هغه، چي کتاب تسبيح يې لولي، وايي ښه کلام . و قولو اللناس حسنا بيان دئ په قرآن . د زړه ذکر هغه دئ، چي کښېباسي او وباسي ځما په ياد هر ه سه، هر حال په هر ځای چي وي ذاکران ادميان . »٩

زموږ متفکر عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، د پير روښان او د هغه  د کورنی د ژوند او مغولي ضد مبارزو په باب، په خپل بل ارزښتناک  اثر « حالنامه » کي، د پير روښان د تفکر په باب خورا په زړه پوري کيسه راوړي ده . دی ليکي : «  پير روښان په څلور کلنی کي فکر کاوه، چي دا ټول جهان په سترگو ليدل کيږي؛ و هرڅه ته ټاکلي گڼه او نوم سته؛  لکه څنگه  چي مځکي او اسمان، شپي او ورځي، ونو او انسانانو، ژوو او مرغانو، مېوو، پروړو، غَلَو، اور، اوبو، وريځو او باران  ټولو ته مخلوقات وايي؛ خوهغه څه چي د خدای په نامه ياديږي څه شی، څوک او چيري دئ؟   دغه راز به يې خپل اکا، شېخ خداداد، ته ويل : اکاجانه! خلک د خدای، خدای ناري وهي. مگر دا خدای څوک او چيري دئ؟  »١٠

**د ذکرانو مرتبې :**

د اسلامي تصوف او عرفان وتلي شيخ  ـ عزيزالدين بن محمد نسفي (٦٣٠ -  ٧٠٠ هـ ق )  د ذاکرانو مرتبې په دي ډول شمېرلي دي :

١ ـ  د ميل يا غوښتني مرتبه :

د دې مرتبې ذاکر جسماً په خلوتځي کي وي؛ پر ژبه ذکر کوي؛ خو روح او زړه يې تل په بازارکي گرزي ؛ او د مادي دنيا په سود او سود لگيا وي .  دا ذکر له گټي خالي نه دئ؛ ځکه ذاکر د ذکر له لوړ او سپېڅلي چاپېر سره اشنا کيږي ؛ مگر د دې ډول ذاکرانو په ذکر کي روحاني او عرفاني اغېزه  لږ وي .

٢ ـ  د ارادت مرتبه :

په دې پړاو کي، ذاکر په خوله ذکر کوي؛ خو زړه يې د غيبت په لور ځغلي؛ په تکليف او خواری سره زړه ورټولوي . دا مرتبه  د غوښتني تر درجي پورته ده .  په هغه مرتبه کي، د ذاکر زړه له ذکر سره ملگرتيا نه کوله؛ خو په دې مرتبه کي د ذاکر زړه او اروا کله نا کله، د يار له کوره د اغيار کورته ځغلي.

٣ ـ  د ميني يا محبت مرتبه  :

د ميني په مرتبه کي، ذکر د ذاکرانو پر زړونو برلاسی مومي . ذاکر د خپلي ميني له امله، ځان له ذکره نسي خلاصولای .  د بولگې په

توگه، که د کم ضروري او سملاسي کار له پاره، له خپل خلوتځي څخه چيري د وتلو هوډ کوي، په خپل ټول سفر کي، زړه په اسانی سره  له ذکره  نسي ژغورلای  .

په دې ډول گورو،  چي د محبت مرتبه، د ارادت د مرتبې پر خلاف ده؛ ځکه د ارادت په مرتبه کي، ذاکر په تکليف او خواری سره زړه  حاضروي؛ خو د ميني يا محبت په مرتبه کي، په سختی سره زړه غايبوي .

په دې مانا چي، د ذاکر زړه اصلاً د یار له ذکره، بلي خواته نه ځي .غواړي هر وخت د خپل محبوب ستاینه وکړي؛ او له دې ستاینې خوند واخلي . ۱۱

۴ ـ د عشق مرتبه :

د زیاتي مینې یا عشق په مرتبه کي، د معشوق د نامه پر ځای، په خپله معشوق د سالک پر زړه واکمني مومي . عاشق د معشوق په سوځونکي او لېونی مینه کي دونه بې سده کیږي، چي بې معشوقه نور هر څه هېروي . عشق د بنده گی او اخلاص معراج دئ . کله چي مینه پاکه او خالصه سي؛ نومؤمن د مخلص مقام ته ورسیږي؛ په هر عمل کي یې یوازي د خالق رضا او مُراد وي، نه د ثواب تمه یا له الهي ترټني او ایداد بېره .

شېخ نسفي، د خدای مینه او عشق د کردو مقامانو پای بولي . د ده له عرفاني نړۍ لید سره سم، د انسان کمال او بشپړتیا په دې کي ده، چي د خدای مینه یې پر زړه او اروا غلبه ومومي . په آخرت کي د انسانانو درجه او مقام، نعمتونه اوهوسایي، له خدای عزوعلا سره د دوستۍ په تناسب دي . هر څوک به د خپلي مینې او اخلاص په اندازه برخه اخلي . رسول الله ( ص ) وایي : « د هیچا ایمان تر هغه مهاله سم او بشپړ نه دئ، چي تر هر څه له خدای اود هغه له رسول سره مینه ونه لري . د خدای مینه د هغه په پېژندني سره پیدا کیږي . که معرفت بشپړ وي، له خدای سره مینه هم بشپړه وي . که معرفت نیمگړی او کمزوری وي، له خدای او رسول سره مینه هم په همدې تناسب نیمگړې او کمزورې وي . »۱۲

د شېخ نسفي په اند، لېونی مینه د سالکانو براق دئ . هغه څه چي عقل په پینځوسو کلونو کي ترلاسه کړي وي؛ عشق په یوه شېبه کي هغو ته اور اچوي . سالک په سلو څلوېښتیو [ د روحاني عبادت څلوېښت ورځنی دوره ] کي دونه عرفاني سیر او خوځښت نسي کولای لکه عاشق چي یې د سترګو په رپ کي کوي؛ ځکه عاقل په دنیا کي ډوب دئ؛ او عاشق تر جهانونو لوړ، د خپل محبوب د دیدار او وصال په خوبونو کي الوتني کوي . د بېچاره عاقل ځغاسته، هیڅکله د عاشق په گام پسي نسي رسېدلای . ۱۳ شېخ نسفي، دعشق مرتبه په دې څلوریځه کي بیان کړې ده :

« عشق آمد وشد چو خونم اندر رگ وپوست

تاکرد مرا تهی و پر ساخت ز دوست

اجزای وجود من همه دوست گرفت

نامیست زمن برمن و باقی همه اوست

په یوه بل ځای کي یې، د زړه او عشق تر منځ نه شلېدونکي اړېکي داسي بیان کړي دي :

گر دل نبود کجا وطن سازد عشق

ورعشق نباشد به چه کارآید دل »۱۴

د عشق اور په پای کي د وجود ټولو برخو ته رسیږي؛ او د عاشق زړه د هینداري په شان ځلوي . په دې مرتبه کي، د عاشق زړه د نازک والي او لطافت داسي پړاو ته رسیږي، چي د معشوق د لیدو وس او زغم له لاسه ورکوي . په بله ژبه، په دې پړاو کي دا بېره پیدا کیږي، چي عاشق د خپل زړه د نازک والي او لطافت له امله، د معشوق په وړانګو و نه سوځي .

د شېخ نسفي په عقیده، حضرت موسا ( ع ) د عشق په دې مرتبه کي و، چي له الله سبحانه و تعالی څخه یې د دیدار غوښتنه وکړه : « ... قال رب ارنی انظر الیک ... »۱۵ حق تعالی په جواب کي ورته وویل : « لن

ترانی »۱۶ یاني ما به و نه ګوري ! له همدې امله، عاشق په دې پر او کي، بېلتون پر وصال غوره ګڼي؛ او ټوله عُمر له معشوق سره په رازو نیاز بوخت وي .

ذکر او فکر، د یوې محوري او اساسي مسألې په توګه، زموږ د ذاکر او مفکر شاعر، علي محمد مخلص، په عرفاني دنیا کي هم خورا لوړ ځای لري . هغه په یوه غزله کي، همېشنی ذکر د ذاکرانو د خوښۍ سرچینه بولي :

غافلان دي په غفلت کښي خوښ له ځــانه

په دایم ذکر کښي ګــورم ذاکران خوښ

په یوه ښایسته غزله کي، له شیطاني اندېښنو څخه د زړه د هینداري په پاکولو کي، د پټ ذکر ارزښت ته په داسي لوړه سترګه ګوري :

که په هره شپه بیدار اوسې سحــر ته

روښنایي به د زړه بیا مومي اکــثر ته

په خفي ذکر مشغول اوسه خوب مه کــره !

د فقیر خبر و ازمیــه داور ته

***

که د زړه آرسی روښانه کړې په ذکــر

د یار مخ به پکښي ووینې اظهر ته

زړه آرسی، اندېښني زنګ دي که باورکړې !

د پټ ذکر په صیقل یې کړه مظـــهر ته

د همدې غزلي په یوه بل ځای کي، الهي ذکر هغه ډېوه ګڼي، چي په نور یې نه یوازي دواړه جهانونه روښانه کیږي؛ بلکي د هغه بې ساري سمندر د پېژندني لاره پرانیستل کیږي، چي ټول عالمونه د ځکونو او کوبیبو په شان، د هغه په ناپایه او تلپاتي غېږ کي ډوب دي :

چه د زړه آینه صفا، کدورت ورک شي

دواړه کون به پکښي و ګورې انور ته

زړه بې حد لطیف دریا ګوره بې مثله

دواړه کونه یو حُباب وینه اصغر ته

بله غزله کي، ذکر او فکر د اروا پیاوړتیا او د زړه څراغ بولي :

ذکر فکر عبادت د نور طعـام دئ

په دا قوت ارواقوي شي دبو پسه

مدام ذکر معرفت د زړه څـــراغ دئ

دغفلت تـــاریکي زیاته ده له نســه

د مخلص په عارفانه دیوان کي، دې خبري ته ډېره پاملرنه اړول سوې ده ، چي ذکر او فکر د ارواوو د تجلا او د سالکانو پر مخ د معرفت د ترلي ور د پرانیستلو ضامن دئ :

که د ذکر په صیقل زړه مصفــا کړې !

د غفلت له توره زنګه یې جـلا کړې !

تجلی به د ارواح درباندي وشـــي
بسته در د معرفت به پر مخ وا کړي !

***

که ته یو زمان په فکر د صفــات شي !
په صفات کښې به بینا د حق په ذات شي !

بل ځای، د تفکر د مقام په اړه ، د دې نبوي حدیث « فکر ساعة خیر من عبادة سبعین سنة » په تفسیر او بیان کې وایي :

یو ساعت فکر تر ډېر عبادت بِه شه
معرفت پیدا د فـــــکر د اوراد دئ

***

یو زمان فکر تر ډېر عبـادت بِه دئ
د فکرت په نور به بیامومي زراطه
کرامت له عبادته حاصل کیږي
معرفت زېږي له فـکره په افراطه

مخلص، فکر د ټولو حقیقتونو د پوهېدو؛ او له هر ډول تیارو څخه د ژغورني وسیله ګڼي :

یو زمان فکر تر ډېر عبـــادت بِه دئ
په ښه فکر به دانا په کُل کُلیات شي!
حقیقت به د اشیا درته څرګند شي
خبردار به د ایمان له اُمــهات شـي!
دباطن څراغ دئ فکر په خاطر کښي
د څراغ په نور به خلاص له ظُلُمات شي !

مخلص، په خپل وخت کي د هند د مغولي تاړاکګرو پر ضدد پښتنو خپلواکی بخښوونکو مبارزو د نومیالي اتل او د هغوی د عرفاني لارښوود ــ احداد په مشری د ځینو روښانیانو د پټ ذکر یوه په زړه پوري کیسه راوړی ده، چي یادونه یې دلته بي ګټي نه ده . په دې کیسه کي راغلي دي، چي یوه ورځ احداد په ماجیت یا ماجت ( مسجد ) کي ناست و. له هغه سره به تل لږ تر لږه دوه ــ دري سوه کسه کښېنستل . د بلې سیمي یوه پښتون د جومات له ساتونکي یا دروازه وان څخه ، چي د کمي اړتیا له پاره چیري ته، پوښتنه وکړه : ایا احداد په جومات کي دئ که نه ؟ ساتونکي وویل : هو په جومات کي دئ . هغه سړی د ماجیت ( مسجد ) تر دروازې مخکي ورغئ؛ ویې لیدل چي له ماجیت څخه د خلکو هیڅ ږغ نه پورته کیږي؛ یو ګړی هلته ودرېد. وروسته یې باور وکړ، که احداد په ماجت کي ناست وای، نو هرومرو به د ناستوخلکود ږغونو ګڼه ګونه اورېدل سوي وای . په دې ډول سړي ګومان وکړ، چي احداد کورته تللیء دئ . وروسته همدا سړی بیا په لار کي تېرېده ؛ او د ماجیت له دروازه وان څخه یې پوښتنه وکړه : ولې دي درواغ وویل، چي احداد په جومات کي دئ! دروازه وان ورته وویل : اوس د احداد د تلو وخت نه دئ؛ راسه چي وګورو. هغه سړی له دروازه وان سره ولاړ . کله چي ماجیت ته ننوتل ویې لیدل، چي لږ و ډېر دري ــ څلور سوه کسه په ماجت کي ناست دي؛ هر یو له خدای سره په داسي راز

و نیاز اخته دی، چي په ځان او جهان خبر نه دئ . هغه بیدیانی سړی د دي صحني په لیدو سره  هک پک سو، ځکه گومان یي کاوه هر چیري چي د پښتنو میر او پیر ناست وي، هوري به ږوږ او ناريې وي . »۱۷

د نور مالومات له پاره و گورئ : هستي او نیستي، فنأ او بقأ، حضور او غیبت،  پوهه او عقل،  زړه، روح .

**لمن لیکونه**

1 Nicholson 48.

۲ نیرومند محقق  ۴۰ .

۳  مخلص، حالنامهء بایزید روښان  ۱۶۹ .

۴  مخلص، حالنامهء بایزید روښان  ۱۸۸.

۵ دارا شکوه،  سکینة الاولیأ  ۶۵.

۶ ژباړه : خپل ځښتن په زړه کي، په زارییو، په پټه او په وینا کي په کراره ( بي لوړه  ږغه ) سهار او ماښام  یاد کړه؛ او بي  خبره  مه اوسه !

۷ ژباړه :  ښه ذکر پټ ذکر دئ؛ او ښه رزق بسوونکئ رزق دئ .

۸  مخلص، حالنامهء بایزید روښان  ۹۹- ۱۰۰ .

۹ پوهاند عبدالحی حبیبي، پښتو نثر ته کره کتني ، ( کابل : د افغانستان د علومو اکاډیمي، ۱۳۶۰ )  ۵ .

۱۰ مخلص، حالنامهء بایزید روښان  ۱۲ .

۱۱ نسفی، انسان الکامل ۱۱۳ .

۱۲ نسفي، انسان الکامل ۱۱۵.

۱۳ نسفی،   انسان الکامل  ۳۴۰ .

۱۴ نسفي،  انسان الکامل ۱۱۶ .

۱۵  د اعراف د سوري د دروڅلویښتم آیت ( ۷ : ۱۴۳ ) یوه برخه .

۱۶  د اعراف د سوري د دروڅلویښتم آیت ( ۷ : ۱۴۳ ) یوه برخه .

۱۷ مخلص، حالنامهء بایزید روښان ۵۰۴-۵۰۵ .